**مطبوعاتي اعلاميه**

**په توقیف کې ساتل شوي کسان یا محاکمه کړئ یا یې په ضمانت او یا هم له ضمانت پرته ازاد کړئ**

شاوخوا درې کلونه کېږي چې زموږ د حزب التحرير- تانزانیا درې غړي: رمضان موشي کاکوسو (۴۱)، وزيري سلیمان (۳۳) او عمر سالوم بومبو (۵۱) اختطاف شول، تر څو په دوی پورې د ترهگریزو عملونو تور پورې کړي. د نورو جزیاتو لپاره مهرباني وکړئ د ډسمبر ۱۴مې نېټې مطبوعاتي اعلامیه ولولئ:

**http://www.hizb-ut-tahrir.info/en/index.php/press-releases/tanzania/14417.html**

د دریو غړو د توقیف په جریان کې، نه یوازې دوی یې له خپلو کورنیو، خپلوانو، ملگرو څخه لیرې کړل، بلکې پر دوی یې اقتصادي فعالیتونه هم ودرول. دوی همدا راز په ناوړه چاپېریال او غیر انساني چاپېریال کې بند تجربه کوي، چې په ټولیزه توگه له مناسبو ټولنیزو اسانتیاوو څخه بې برخې دي.

سربېره پر دې، دا ډېر د تأسف ځای دی چې د دوی قضیه په هرو دوو اونیو کې له ذکر کېدو پرته دوام مومي، پرته له دې چې د تېرو دریو کلونو راهیسې د شواهدو د نه پوره کېدو په پلمه یې محاکمه پیل کړي!

موږ په حزب التحرير- تانزانیا کې په کلکه ټینگار کوو چې زموږ غړي له شک پرته بې گناه دي او له همدې امله د دوی د محاکمې اورېدلو په پیل کې تر دې دمه اعتماد او رضایت نشته. زموږ غړي او نور ډېر کسان چې د تانزانیا د امام شورا په وروستي سند (صفحه ۱۷-۲۵) کې یې یادونه شوې ده، یوازې د ترهگرۍ د مخنیوي قانون د تعصب قرباني دي، چې د زورواکو دولتونو له لوري مسلط شوی او د ظلم، ترور، شکنجې، اختطاف او نورو لپاره کارول کېږي.

موږ دا هم ټینگار کوو چې حزب التحریر په ۱۹۵۳م کال کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له منهج سره سم تاسیس شوی، چې له تاوتریخوالي پرته فکري او سیاسي مبارزه کوي او کوم محدودیت ته اړتیا نه لري.

موږ په حزب التحرير- تانزانیا کې یو ځل بیا په تانزانیا کې د عدالت له ادارې سره د معاملې له ټولو اړخونو څخه غواړو چې د توقیف شوو د محاکمو لپاره محکمې ته د شواهدو په اضافه کولو سره د قضایي پروسې سره سم عمل وکړي، یا د زموږ درې غړي په ضمانت سره خوشي کړي، یا یې د هم ژر تر ژره ازاد کړي.

**مسعود میسلیم**

**د حزب التحریر- ولایه تانزانیا مطبوعاتي استازی**

**۱۴۴۱هـ.ق، د ذوالقعدې ۳۰مه**

**۲۰۲۰م، د جولای ۲۱مه**

**د صدور ګڼه: ۰۴/ ۱۴۴۱**